# د ابدالیانو مشاهیر

**تر احمدشاه بابا دمخه:**

ابدالي د پښتنو د يوې مشهوري ډلي نوم دئ چي د اعليحضرت احمدشاه بابا تر جلوس وروسته په دراني مشهوره سوې ده او په کندهار کي د ارغنداو او ارغسان او ترنک او هلمند په لتو او کلو او دښتو و زرغونو بڼو کي اوسي.

په دغو خلکو کي تر (١١٦٠هـ) دمخه خورا ډېر مشهور سړي تېر سوي دي چي د پښتنو مشران وه او ټول د اعليحضرت احمدشاه بابا اسلاف گڼل کېږي او وروسته هم ډېر مشاهير او نوموړي سړي ځني راوتلي دي، خو په دې مقاله کي زه غواړم چي د احمدشاه بابا تر جلوس دمخه د دوی نوموړي رجال درته بيان کړم.

**اودل:**

دا سړی د پښتنو له خورا مشهورو خلکو څخه دئ چي نوم ئې اودل يا ابدال وو. زما په فکر د دې نامه ريښه ډېره پخوانۍ ده او هغه تاريخي اپتل Aptal يا هپتل Haptal ته رسېږي چي د (٤٠٠ مسيحي) کال په شاوخوا کي دغي آريايي سپين پوستي قبيلې په باختر او تخارستان کي لوی او مقتدر دولت جوړ کړی وو او مؤرخينو د دې تاريخي خلکو نوم (ابدلوی) هم ضبط

کړی دئ[۱].

که څه هم پخوانو مؤرخانو دغه نوم ډول ډول کښلی دئ، مگر د بریتانوي دائرة المعارف په عقیده ئې اصلي اشکال هغه اپتل یا هپتل یا ابدلوي دئ چي اودل او ابدال ته ډېر نژدې دي او دا نوم تر اوسه هم په پښتو کي مستعمل دئ او سړی ویلای سي چي یو پخوانی آریایي نوم دئ چي په پخواني افغانستان کي تر اسلام ډېر دمخه هم مستعمل او مروج وو. چي وروسته له دغه نامه څخه یفتل او د عربو هیطل او هیاطله هم جوړ سوی دئ او د یفتل په نامه تر اوسه هم یو کلی په تخارستان کي د فیض آباد شمال ته سته. په بدخشان او بامیان او غرجستان کي چي کومي د پاچهانو کورنۍ د اسلام په ابتدایي پېړیو کي موجودي وې، ټوله د دغي آریایي سپین پوستي قبیلې څخه وه[۲].

اپتل یا هپتل = اپتال یا هپتال = ابدال یا اودل کېدای سي، چي هر وخت (پ) په (ب یا و) اوړي. (ت) او دال له یوه مخرجه دي. سره اوښتل ئې په فقه اللغه کي مطرد دي او حروف علت هم تل یا زیاتېږي یا کمېږي. نو د ابدال او اودل د نامه ریښې ډېري قدیمي دي. دغه اودل چي زه ئې دلته احوال لیکم، د ترین زوی او د شرخبون لمسی او د سړبن کړوسی وو. په دغه کورنۍ کي خرښبون چي د شرخبون ورور وو هم ډېر مشهور سړی دئ، چي پټې خزانې د ده پښتو اشعار رانقل کړي او موږ ته ئې سپارلي دي او د ده د وفات تاریخ (٤١١هـ) لیکي چي د کندهار په مرغه کي مړ سوی دئ[۳].

د اودل لوی نیکه (سړبن) او د ده کورنۍ د کسي په غره (کوه سلیمان)

---

[۱] د بریتانیکا دائرة المعارف.

[۲] د آریانا مجله: ١٤٢ مخ، ج ۳، د بارتولد د کتاب په حواله.

[۳] پټه خزانه: ۱۷ – ۲۱ مخونه.

کي اوسېدل او د پښتنو مشرتوب په دوی اړه درلوده او وروسته ډېر مشاهير پکښې پیدا سوه[٤].

اما شرخبون د اودل نیکه یو پوه او کاغ او متقي مشر وو. د خپل مشرتوب مځکه ئې پراخه کړه او ډېري د شاوخوا طايفې ئې ايلي کړې او تر ده وروسته ئې ترین له اولادې څخه مشر سو. ترین یقیناً د اودل پلار دئ، ځکه چي ابداليان متل کوي: "که ترین یې خو مي پلار یې". په خپله اودل له پلاره کوچنی پاته سو، خو په نورو ورونو کي پلار دی پر خپل ځای کښېناوه او ځکه چي د ښه خوی او ښندني او زړه ورتوب خاوند وو، نو ئې د کورنۍ مشرتوب په ښه توګه کاوه او د ډېري لوړي درجې څښتن وو[٥].

د اودل نوم مؤرخینو په مختلفو ډولو اودل یا ابدل یا ابدال راوړی دئ او په پښتو ادب کي هم دغه درې سره شکله موجود دي. په خپله احمدشاه بابا يو ځای د جمع په صورت اودلي راوړي، لکه چي وايي:

ټوله یو دي که غلـــجي دي که اودلي
ښه هغه چي ئې د زړه ښيښه صفا ده[٦]

ګل محمد ابدالي هلمندی چي د (١٢٠٠هـ) په شاوخوا کي ژوندی وو. دا کلمه ابدال کښلې او داسي ئې راوړې ده:

په نسب کښي که ابدال يم
جــانه زوی دئ د ابدال[٧]

له دغو څخه ښکاره کېږي چي درې سره ډولونه ئې منقول او صحيح

---

[٤] مخزن افغاني قلمی: ١٤٩ مخ او تاريخ سلطاني او حيات افغاني.
[٥] مستېر راورټي د قلمي تذکرة الملوک په حواله او سلطاني.
[٦] لوی احمدشاه بابا: ٢٩١ مخ.
[٧] د ګل محمد قلمي ديوان.

دي. د مخزن افغاني په يوه قلمي نسخه کي چي په (١١١٣هـ) په کندهار کي کښلې سوې ده هم په قديم ډول (اودل) ذکر سوی دئ[٨]. مگر په وروستنيو کتابو کي ابدال راغلی دئ.

د اودل د ژوندانه وخت په ثابت ډول نه معلومېږي. د تذکرة الملوک ليکوال وايي چي بايد دی د سلطان محمود معاصر وي، يعني د (٤٢٠هـ) په حدودو کي ژوندی وي. دی په خپله وايي چي په تاريخ کي د هغه چا نوم اخيست کېږي چي مشهور وي. نو ښايي چي د سړبن او شرخبون او ترين تر منځ ځيني نور پلرونه هم وي چي هغه مشهور سوي نه دي[٩].

نو ځکه د دغو نيکونو د ژوندانه وخت ټاکل هم مشکل کار دئ. منشي عبدالکريم علوي په تاريخ احمد کي او هم حيات افغاني او بيا هم لنگويرت ډيمز مستشرق په اسلامي دائرة المعارف کي ليکي چي اودل د خواجه ابو احمد چشتي معاصر وو. نو که موږ د تاريخ احمد او حيات افغاني ذکر سوی روايت ومنو چي اودل د خواجه ابو احمد چشتي معاصر وو نو به په لاندي ډول د ده د ژوندانه تاريخ هم معلوم کړای سو.

قدوة الدين خواجه ابو احمد چشتي د افغانستان د چشت د کورنۍ له مشهورو عرفاوو څخه دئ، چي نسلاً حسني او د سلطان فرسناقه زوی وو. د پلرو سلسله ئې تر حضرت امام حسن پور رسوي. دا کورنۍ د عباسيانو له لاسه د هرات د چشت غرو ته راغلې او دلته ئې ځانونه پټ کړي وه. ابو احمد د (٢٦٠هـ) کال د روژې په شپږمه په چشت کي وزېږېدی او له کوچنيوالي ئې له خواجه ابو اسحاق شامي څخه د تحصيل استفاضه وکړه. دی د چشتي عرفاوو په سلسله کي لوی سړی دئ. د (٩٥) کالو په عمر د (٣٥٥هـ) کال د

---

[٨] قلمي مخزن: ١٤١ – ١٤٩.

[٩] د راورټي په حواله تذکرة الملوک.

جمادی الثاني په لومړۍ ورځ وفات سو[۱۰]. تر اوسه هم په چشت کي د دغي عرفاني کورنۍ مزارات مشهور او معلوم دي. د سلطان فرسناقه او خواجه ابو احمد او د ده د زامنو او نوري کورنۍ قبرونه سته او هلته د ابو احمد ابدال د رياضت او عبادت ځای هم د چشت په غرو کي تر اوسه خلقو ته معلوم دئ[۱۱].

ځکه چي خواجه احمد د (۳۵۰هـ) په شاوخوا کي ژوندی وو او د اودل ملاقات هم د مؤرخينو په قول د ده سره ثابت دئ. نو بايد د اودل د ژوندانه وخت هم دغه د (٤٤٠هـ) حدود وټاکو او په دې ډول د تذکرة الملوک د ليکوال خبره هم صحيحه ښکاري.

خلاصه دا ده چي: د ملک اودل په مشرتوب کي د پښتنو قبايلو سره متفق وه. دوی کښت او کرهڼي ته توجه وکړه، د کسې غره د شاوخوا مځکي ئې وداني کړې او هم هري خوا ته خپاره سول. په خپله اودل په دلاوري مشهور او په جګړو کي بريالی وو او په دغو وختو کي پښتانه د بګرام (پېښور) او غزني او کابل په لتو کي هم اوسېدل[۱۲].

**ځيرک:**

تر ملک اودل وروسته د ده په کورنۍ کي حکمراني پاته سوه چي څو عمر وروسته ملک (رجړ يا رځړ) د دغو پښتنو په مشرتوب وټاکل سو او د ده له زامنو څخه چي عيسی مشر وو د پلار له خوا جانشين مقرر سو. وايي چي د عيسی په زامنو کي سليمان ډېر د سد او پوهي خاوند وو او په (ځيرک)

---

[۱۰] نفحات الانس، سير الاقطاب: ٦٤ مخ، آئين اکبري: دريم ټوک، ١٦٦ مخ.

[۱۱] تاريخ احمد: ۹۳ مخ.

[۱۲] د راورټي په حواله تذکرة الملوک.

مشهور سو او عیسی د پوهنې لامله ځیرک په مشرتوب غوره کړ. ځیرک په ډېره مړانه او عقل او دلاورۍ حکمرانۍ وکړه، د قوم د اخلاقو په ښه کولو کې زیار وکیښ او خپل قوم ئې د کسې غره څخه د کندهار په ودانو مځکو کې سره خپاره کړل[١٣].

د سلیمان ځیرک له زامنو څخه هم درې تنه مشهور دي: پوپل، بارک، الکو.

**بارک:**

ملک ځیرک په خپل ژوندون کې یوه لویه جرګه جوړه کړه او د ده په زامنو کې د قوم په ټاکنه ملک بارک په مشرتوب وټاکه. تر (١٥) کالو پورې مشرتوب په بارک اړه درلوده او په ښه خوی او ښندنه او پوهنه مشهور وو. ټوله قبایل ده ته اړل وه[١٤].

**پوپل:**

تر ملک بارک وروسته د ده ورور ملک پوپل د ټولو قبیلو مشر سو. ځکه چې دی هم هوښیار او د مشرتوب په چارو ښه پوهېدی. نو ئې د هغې خوا پښتانه ټول خپل تابع کړل. د کاکړو او بلوڅو قبایل هم په شال او ږوب کې ورته اړل سول. پسله (٦٥) کاله مشرتوبه د عمر په (٨٩) کال وفات سو[١٥].

د پوپل هم درې زامن پاته سوه: حبیب، بادو، ایوب.

چې ملک پوپل مړ کیدی، نو ئې خپلو زامنو ته وصیت وکړ چې د خپلو

---

[١٣] تذکرة الملوک.

[١٤] تاریخ سلطاني: ٥٤ مخ.

[١٥] تاریخ سلطاني: ٥٥ مخ.

پلرو پر پله پل کښېږدي. تر مرگ وروسته ئې مشر زوی حبیب د پښتنو په رياست وټاکل سو[١٦].

**حبیب:**

د ملک حبیب دوره د جنگو او نزاع دوره وه. د ده ټول عمر د قبايلو په تابع کولو تېر سو، مگر هیڅا د ده مشرتوب نه مانه. ترينو او بړېڅو او غلزو او کاکړو ځانته مشران غوره کړل او د ملک حبیب سره ئې جگړې وکړلې. دی د عمر پر (٥٢) کال وفات سو او درې زامن ئې مشهور دي: بامي، اسماعيل حسين[١٧].

**بامي:**

بامي د ښو خويو خاوند او متواضع او مېړه سړی وو. تر حبیب وروسته دی مشر سو. بامي د سلطان بهلول لودي او د سلطان سکندر لودي معاصر وو (٨٥٥ – ٩٠٠هـ) او له هغو شاهنشاهانو سره ئې دوستانه روابط درلودل او هر وخت به هغو سوغاتونه ورته رالېږل. که څه هم د ده په مقابل کي نورو د مشرتوب مدعيانو هم د لوديانو له دربار سره روابط ونښلول، مگر لودی دربار د بامي مشرتوب رسماً ومانه[١٨]. سلطان محمد مؤرخ د ده عمر (٧٣) کاله گڼي.

د ملک بامي مشهور زامن دغه درې تنه دي: نصرت، کاني، بساما. مگر له دغو څخه يوه مشرتوب نه وکړ. کاني د عمر پر (٨٠) کال وفات سو.

---

[١٦] تذکرة الملوک، حيات افغاني، سلطاني.

[١٧] تذکرة الملوک، حيات، سلطاني.

[١٨] تذکر الملوک.

**بهلول، معروف:**

د کاني له زامنو څخه د ده مشر زوی بهلول بيا په رياست انتخاب سو. د ده په رياست کي ۱۲ کاله د ده پلار کاني هم ژوندی وو. په خپله بهلول د (۱۰۵) کالو په عمر تر دنيا ولاړ او په لياقت ئې رياست وکړ او له زامنو څخه ئې معروف چي ډېرش کلن وو په خپل ژوندون کي په مشرتوب وټاکه. معروف ښه اداره و نه کړه او ملت ځني خپور او پرېشان وو. تر لس کاله حکمرانۍ وروسته وفات سو[۱۹].

يو زوی ئې مشهور دئ چي عمر نومېد. خو د پلار تر مرگ وروسته زوکړی او مور ئې له ساگزو څخه وه. ځکه چي عمر مېړه او دلاور سړی وو. د ابداليو مشرتوب ئې بيرته لاس ته راووست او هر چا ته ئې د مځکو وېش معلوم کړ. اکثر قبايل ئې مطيع کړه او د همسايه دولتو له خوا هم دی په مشرتوب منل سوی وو. خلک ئې په حکمداري کي په راحت او هوسا ول. د ده درې زامن مشهور دي: صالح، سدو، آدم او عمر ئې هم (۸۹) کاله وو[۲۰].

**صالح:**

که څه هم سلطان محمد او محمد حيات ليکي، چي: ملک صالح د عمر مشر زوی حکمراني نه وکړه او خپل کشر ورور ته ئې پرېښووه، مگر د تذکرة الملوک په قول د ده حکمداري هم ثابته ده او وايي چي ټول ابدالي ده ته مطيع وه. ډېر پرهېزگار او فياض سړی وو. غريبان به ئې روزل او سترخوان ئې هيڅکله بې له مېلمه نه وو. دی د شېرشاه او سليم شاه سوري معاصر دئ

---

[۱۹] سلطاني: ۵۷ مخ، حيات: ۱۲۲ مخ.

[۲۰] سلطاني، حيات.

(٩٤٧ – ٩٦٠هـ) او هغه ښه روابط چي د ده پلرو له لودي پاچهانو سره درلودل، ده له سوريانو سره هم تازه کړل چي شېرشاه سوري دهلي ونيو، نو ملک صالح د ملي وحدت او تبريک له پاره خپل وکيلان ډهلي ته واستول. پښتون شهنشاه د دغو نمايندګانو احترام وکړ او وې ويل: چي ملک صالح يوازي زما مشر نه دئ بلکي د ده پلرونه او نيکونه له ډېره عمره زما د پلرو او نيکو مشران وه او د ملک صالح کورنۍ په ټولو پښتنو کي ساری نه لري. په دې ډول دغه پښتانه شهنشاه د ملک صالح مشرتوب ومانه او د ده نمايندګان ئې په احترام د ډېرو سوغاتو سره رارخصت کړل[٢١].

په دې ډول ښايي چي ملک صالح تر سدو دمخه مشرتوب کړی وي او وروسته د خپل ورور په حق کي تر حکمدارۍ تېر سوی وي.

## سدو:

د ده تولد په دوشنبې ١٧ د ذيحجې (٩٦٥هـ) وو، چي د شيخ اکو عليزي زاهد په امر ئې نوم (اسدالله) پر کښېښود چي پښتانه ئې په خپله اصطلاح سدو بولي[٢٢]. د عمر په ژوندانه کي پښتنو يوه لويه جرګه وکړه او په دغه ټولنه کي داسي فيصله وسوه چي وروسته دي د دوی مشرتوب په سدو اړه ولري. صالح چي مشر وو هم د قوم په دې فيصله خوښ سو او مشرتوب سدوخان ته وسپاره سو. پلار او مشر ورور کمربند او توره ده ته ورکړه. سدو د مشرتوب دوره په کاميابي تېره کړه او خپل مخالفين ئې هري خوا ته پر ځای کښېنول. په دغو وختو کي د ابدالي قبيلو مرکز ارغسان وو او سدوخان هلته په

---

[٢١] تذکرة الملوک.

[٢٢] تذکرة الملوک، حيات: ١٢٤ مخ.

میړانه او عقل مشرتوب کاوه[۲۳].

د سدوخان په عصر کي حاجي جلال خان بادوزی چي په حاجي زله خان مشهور وو او په کندهار کي تر اوسه هم یو کلی د ده په نامه یادېږي د ابدالیو د ځینو قبیلو مشرتوب درلود، مگر سدوخان چي یو پوه او پر خلکو گران مشر وو. ټول ملت ئې سره متفق او تر خپله حکمراني لاندي کړه او د حاجي زله خان سلطه ئې له منځه ورکه کړه[۲٤].

د سدو خان د ژوندانه وخت د مؤرخینو په قول هغه عصر دئ چي په فارس کي شاه عباس صفوي پاچهي کړله، ځکه چي سدوخان یو قوي او غښتلی او د نفوذ څښتن مشر وو. نو داسي وایي چي له صفوي درباره هم دی په مشرتوب منل سوی وو.

د سدوخان په مشرتوب کي یو بل د پښتنو مشهور مشر (محمد) هم ملگری وو چي دا محمد د محمدزو د قبیلې پلار دئ، مگر د سدوخان اقتدار او د ده د پښتونولۍ ښه خویونه داسي وه چي ټول پښتانه د ده په مشرتوب راضي وه او دی د پښتنو په یووالي او اتحاد کي بریالی سوی وو[۲٥].

موږ ته دا ښکاره ده چي شاه عباس صفوي په (۱۰۳۱هـ) کندهار د جهانگیر مغولي څخه نیولی وو[۲٦]، ځکه چي د سدوخان روابط له شاه عباس سره مؤرخینو لیکلي دي، نو باید چي سدوخان د (۱۰٤۰هـ) تر حدودو پوري ژوندی وي.

---

[۲۳] سلطاني: ٥۹ مخ، حیات: ۱۳۳ مخ.
[۲٤] خورشید جهان: ۱٦۹ مخ.
[۲٥] تتمة البیان: ۲۳ مخ، سرجان ملکم، ملیسون.
[۲٦] تزک جهانگیر، اقبالنامه، منتخب اللباب.

**د سدوخان زامن:**

سدوخان پنځه مشهور زامن درلودل: خواجه خضرخان، مودود (مغدود) خان، زعفران خان، کامران خان، بهادرخان. سدوخان د خپل عمر پر (۷۵) کال د اولس یوه لویه جرګه راوغوښته او خپل زوی خواجه خضر ئې په مشرتوب وټاکه. که څه هم مشر زوی مغدودخان وو مګر د سدوخان په ټاکنه اولس د خضرخان مشرتوب ومانه[۲۷]. د سدوخان دغه پنځه زامن د شاه جهان معاصر دي. په (۱۰٤۷هـ) چي د شاه جهان مامورين د کندهار د نيولو له پاره راغله، ملک مغدود او کامران خان له دوی سره کومکونه وکړل او د کندهار مرزبانان ګټل کېدل[۲۸]. دغو مشرانو د ډهلي له درباره سره ښه روابط درلودل، لکه چي په (۱۰۵۰هـ) ملک مغدود او کامران خان ډهلي ته ولاړل او د شاه جهان له خوا خلعتونه ورکړل سوه[۲۹]. د نورو ورونو د مرګ احوال نه دئ معلوم، اما ملک مغدود په (۱۰۵۳هـ) د کابل له حکمران میریحیی سره چي د شاه جهان له خوا مقرر وو جګړه وکړه او په دغه جګړه کي مړ سو. د شاه جهان دربار ته چي دغه اطلاع ورسېده میریحیی ئې موقوف کړ[۳۰].

له دغو حوادثو څخه ښکارېږي چي دغو ورونو پس له (۱۱۰۰هـ) ژوندون کاوه. له دوی څخه کامران خان عالم او فاضل سړی وو چي کلید کامراني ئې په (۱۰۳۸هـ) د کندهار په ښارصفا کي تالیف کړی دئ[۳۱].

د خواجه خضر ریاست او حکمداري اویا کاله وه. تر ده وروسته ئې دوه زامن خداداد سلطان او شېرخان مشران سول. خداداد په پښتنو کي په

---

[۲۷] سلطاني، حیات.

[۲۸] پادشاه نامه: ۲ ټوک، ۳۲ مخ.

[۲۹] پادشاه نامه، دوهم ټوک، ۱۵۱ مخ.

[۳۰] پادشاه نامه: دوهم ټوک، ۳٤۸ مخ.

[۳۱] پټه خزانه: ۳۰ مخ.

سلطان (خوده کي) مشهور وو او په ډېر لياقت او قوت ئې مشرتوب کاوه. په دغو وختو کي د پردو دولتو د تفرقې اچولو سياست هم سلطان خداداد ته ښکاره سو او دې پښتانه مشر په خپله پوهي د دې خبري حس وکړ چي بايد پښتانه سره يو لاس سي. هغه وو چي دی د غلجو قبايلو له مشرانو سره په مفاهمه او جرگه کي داخل سو او له غلجو پښتنو سره ئې دوستانه روابط ټينگ کړل. په دغه وخت کي د غلجو د قبايلو مشر سلطان مخلی وو. خوده کي د هغه مشر سره مفاهمه وکړه او د ابداليو د مځکو حد ئې د کلات پل سنگي او گرماو وټاکه چي تر اوسه دا وېش معتبر دئ[۳۲]، ځکه چي دغه مسئله هر وخت د جگړې وسيله وه نو سلطان خداداد او سلطان ملخي په پوهي او خيرخواهي د پښتنو له منځه ويستله.

سلطان خوده کي د ږوب او بوري مځکي هم تر خپل تصرف لاندي کړې او په ښه ډول ئې د رياست کارونه وکړل. دی د اورنگزېب معاصر وو (د ۱۱۰۰هـ) حدود. تر سلطان خوده کي وروسته د ده ورور شېرخان مشر سو او د (۱۱۵۰هـ) په شاوخوا کې د کندهار له صفوي حکمران سره جگړې وکړې. هغه قوه چي د کندهار حکمران پښين ته د مالياتو د ټولولو له پاره استولې وه د کوږک په بند کي شېرخان د خپلو اقوامو په مرسته محوه کړه. صفوي حکمران له شېرخانه د دغي جگړې محرکين وغوښتل، مگر شېرخان په لاس ور نه کړه. صفوي حکمران د کندهار د ښار د شاوخوا ټول ابدالي د دې واقعې په انتقام تالا کړل او شېرخان هم په کلات او پښين کي د پردو پر مقابل د ملي استقلال اعلان وکړ. شېرخان کلک او غښتلی پښتون وو. صفوي دولت د ده د ماتولو له پاره بله چاره نه درلوده، د ده د اکا مغدودخان يو زوی وو چي

---

[۳۲] سلطاني، حيات.

شاه حسين نومېدی. د ابداليو په مشرتوب ئې د شېرخان د مقابلې له پاره وټاکه. په دې ډول د ابداليو په منځ کي نفاق ولوېد، مګر ژر شاه حسين د خپل کار نتيجې ته ملتفت سو او جليل (خليل) نومی چي د صفوي بيګلربيکی له خوا ئې د پښتنو د نفاق اچولو وظيفه درلوده مړ ئې کړ او له کندهاره ښهرصفا ته ولاړ. هلته ئې د شېرخان سره روغه وکړه او د رياست امور ئې هغه ته وسپارل، په خپله ملتان ته ولاړ[٣٣].

**شېرخان:**

تر شاه حسين وروسته شېرخان د ابداليو خپلواک مشر سو او داسي قوت ئې وموند چي د صفوي دربار له خوا هم د ده استقلال او رياست په رسمي ډول وپېژانده سو. په دې شرط چي د کندهار بيګلربېګي سره به د خطرې پر وخت مرسته کوي. شېرخان هم بدال خان باميزی او مير الکوزی د مبارک زوی چي د کندهار د ابداليو نور مشران وه د ځان ملګري او په خپل نيابت ئې مقرر کړل او په دې وسيله ئې ملي يوتوب او اتحاد حاصل کړ. شېرخان د (٦٥) کالو وو چي يوه ورځ په ښکار کي له آسه ولوېد او سخت ټپي سو. نو ئې خپل زوی سرمست خان په رياست وټاکه او پس له هغه وفات سو[٣٤].

**سرمست خان:**

سرمست خان د خپلو پلرو په ډول د رياست کارونه پر خپله غاړه واخيسته او تر دېرشو کالو پوري د پښتنو مشر ګڼل کېدی. دی د خپل ژوندانه تر ٥٠ کالو پوري ژوندی وو. درې زامن ځني پاته سول چي مشهور ئې دولت

---

[٣٣] سلطاني: ٦٠ – ٦٤ مخونه، حيات: ١٢٢ – ١٢٤ مخونه.

[٣٤] سلطاني: ٦٥ مخ، حيات: ١٢٥ مخ.

خان وو[٣٥].

**دولت خان:**

د سرمست خان د مړيني پر وخت دولت خان کوچنی وو. نو د سرمست خان اکا حيات سلطان چي د سلطان خوده کي زوی وو د رياست کارونه اجراء کول، مګر له حيات سلطان مشهور په فيروزخان څخه داسي کارونه د صفويانو په طرفداري کي وسول چي اولس ځني خپه سو او په عوض کي ئې دولت خان چي نوی مېړاني وهلی وو پر ځای کښېناوه. دولت خان د کندهار د صفوي حاکم سره جګړه وکړه هغه فرخ نومي د ډېر لښکر سره ورته راولېږی. مګر دولت خان دغه فرخ د لښکرو سره مړ کړ، څو چي په خپله بيګلربيګي مقابلې ته ورته راووتی. مګر دولت خان دی هم مات کړ. حيات سلطان چي د دولت خان مېړانه وليدله، د قوم رياست او مشرتوب ئې ده ته پرېښو، هند ته ولاړ، نو دولت خان مستقل رئيس سو.

صفوي حکومت د دولت خان دغه کاميابي ليدله. ځکه چي د کندهار بيګلربيګي (زمان خان) خو نه سوای کولای نو تر (١١٠٦هـ) وروسته د شاه حسين صفوي په امر موقوف او په عوض کي ګرګين خان ګرجی چي نوم ئې وختنک وو د شاهنواز خان په لقب کندهار ته راولېږی. دې نوي حاکم بل څه نه سوای کولای نو عزت خان او اتل خان ابدالي ئې د دولت خان په مقابل کي پورته کړه، څو چي د دوی په مرسته ګرګين خان وکړای سو چي يوه شپه په ښهرصفا کي د دولت خان پر کلاچه لښکر ورتوی کړي، دې لښکرو په خپله دولت خان او د ده زوی نظرمحمد خان او فقيرخان نوکر ئې

---

[٣٥] سلطاني: ٦٥ مخ، حيات: ١٢٥ مخ.

ونيول او د گرگين په امر دوی اعدام سول. په دې ډول گرگين خان مؤفق سو چي دولت غونډي لوی مشر پښتون مړ او د صفوي کورنۍ يو قوي دښمن له منځه وباسي[٣٦] (د ١١١٥هـ حدود).

**رستم خان:**

د دولت خان درې زامن وه: نظرمحمد خان د پلار سره يو ځای د گرگين خان له خوا ووژل سو، بل مشر زوی ئې رستم خان وو چي زمان خان ئې کشر ورور وو. ځکه چي گرگين خان د دولت په وژلو هم ابدالي قبايل ايل نه کړه او هر کله به دغو خپلواکو تېرو ځانونه د پردو له لاسه ژغورل، نو گرگين مجبور سو، چي د رستم خان زړه وساتي.

رستم خان قابل او لايق سړی وو. مشرتوب ئې په خورا ښه ډول کاوه. د قوم نور مشران ئې هم ځانله راجلب کړل، سرور خان د بختيارخان باميزي زوی او کټه خان اکوزی ئې په خپله پېشکاري مقرر کړل او د دوی په سلا ئې د ابداليو مشرتوب کاوه.

گرگين خان د رستم خان کشر ورور زمان خان له ده څخه د يرغمل په ډول وغوښت او کرمان ته ئې واستاوه. له دې جهته نو رستم خان د خپل مشرتوب په دوره کي په ښکاره د صفوي دولت پر خلاف څه نه سوای کولای، مگر د کندهار د جنوبي خوا بلوڅ قبايل ئې د آزادۍ غوښتلو په نامه تحريک کړل. هغو د صفوي دولت له حکمرانه سره جگړه وکړه او رستم خان په دغه ذريعه د صفوي دولت لښکر تباه کړ.

گرگين خان د رستم خان له دغه کاره څخه وبېرېدی. دی ئې بندي کړ،

---

[٣٦] سلطاني: ٦٧ مخ، حيات: ١٢٦ مخ، زندگاني نادر: ٩ مخ، روضة الصفا ناصر: ٨ ټوک، سرجان ملکم.

څو چي وروسته ئې مړ هم کی. د رستم خان مشرتوب څلور کاله وو. له ده څخه کم اولاد نه دئ پاته. پس له رستم خانه په کندهار کي د ابدالیو قبایل بې مشره پاته سول او د صفوي حکومت لښکرو دوی خورا سره ونښتېځل څو چي دوی ولاړه د کندهار د ښوراوک په رېگستان او بکوا کي مېشت سول[۳۷].

دا ټول وقایع تر (۱۱۱۹هـ) پوري واقع سول وروسته له کندهاره د ابدالیو مشران هرات ته ولاړ او هلته ئې تر څو وخته پوري مشرتوب وکړ. په کندهار کي د (۱۱۱۹هـ) په پای کي حاجي میرویس خان هوتک گرگین خان مړ کړ او تر ۱۱۵۰هـ پوري کندهار د هوتکو په لاس کي وو. اوس به دلته د ابدالیو وروستني وقایع چي په هرات کي پېښ سوي دي لنډ لنډ ولیکم:

# د هرات ابدالي

دمخه وویل سوه چي حیات سلطان د سلطان خوده کي زوی د دولت خان په عصر کي له کندهاره ولاړ او په ملتان کي اوسېدی. هغه وخت چي د گرگین خان مناسبات له ابدالیو سره وران سول او دوی ئې تالا کړل نو ابدالي قبایل تقریباً پنځوس زره کوره ښوراوک او د فراه بکواه ته ولاړل.

**عبدالله خان:**

په (۱۱۱۹هـ) چي مرحوم حاجي میرویس خان هوتک د صفوي حکومت کمبله ټوله کړه او کندهار ئې آزاد کړ، نو شاه حسین صفوي، کیخسرو خان له ۲۵ زره لښکر سره د حاجي میرویس خان مقابلې ته راولېږه، ځکه چي په عسکري قوت ئې د پښتنو سره مقابله نه سوای کولای نو ئې د

---

[۳۷] سلطاني: ٦۹ مخ، حیات: ۱۲٦ مخ.

نفاق له پاره له ملتانه د حیات سلطان سدوزي زوی چي عبدالله خان نومېدی راوغوښت او عبدالله خان له اسدالله خان خپل زویه سره بیرته کندهار ته راغله. که څه هم دوی د صفوي دربار له خوا د حاجي میرویس خان د مقابلې له پاره راغوښتل سوي وه مگر دوی ځکه چي پښتانه او پر خپل وطن مین وه نو ئې فرصت غوښت، هغه وو چي کیخسروخان او لښکر ئې د حاجي میرویس خان له خوا په ۲۸ د روژې ۱۱۲۳هـ محوه سول، نو عبدالله خان او اسدالله خان له فرصته استفاده وکړه، دواړه هرات ته ولاړل، او هلته ئې د خپلواکۍ کانون تود کړ، ځکه چي د هرات ملیون هم خپلواکۍ ته تیار وه. نو ئې د عبدالله خان سدوزي ملگري وکړه. په دغه وخت کي په هرات کي عباس قلي خان شاملو د صفوي دربار له خوا حکمران وو. هغه عبدالله خان او اسدالله خان دواړه بندیان کړل. خو دلته د هرات ملیون سره وښورېدل او عباس ئې له هراته ویوست. صفوي دربار چي د هرات د ملیونو په نهضت خبر سو د عباس قلي پر ځای ئې جعفرخان استاجلو د هرات د اېل کولو له پاره مقرر کړ، مگر عبدالله خان چي داسي فرصت ئې وغوښت او په هرات کې د آزادیخواهانو قیادت کاوه، له بندیخانې راووت د دوښاخ غره ته ولاړ، ابدالي قبایل ئې سره غونډ کړل او اسفزار ئې ونیوی. وورسته ئې پر هرات یرغل وکړ، د صفوي حکومت نوی حکمران جعفرخان مقابلې ته راووت او یو فرسخ له هراته لیري جگړه ونښته. پښتنو جعفرخان ژوندی ونیوی، او راغله هرات ئې کلابند کړ. د عبدالله خان مړنی لښکر د هرات پر هغه برج چي پیله خانه نومېدی او د عراق او ملک د دروازو تر منځ واقع وو وروخوت او ښار ئې فتح کړ. د روژې ۲٦ شپه (۱۱۲۹هـ). تر دې وروسته د هرات ملیون ټول سره غونډ سول، غوریان، کوسان، بالامرغاب، بادغیس، اوبه او نور د هرات ملحقات ئې ټول ونیول، او هلته ئې ملي حکومت تاسیس کړ او فراه ئې هم

په دغه غربي مرکزي حکومت پوري ونښلوله.

د صفوي دربار چي قندهار له لاس وتلی وو، نه ئې غوښته چي هرات هم دغسي مفت ایله کړي، نو فتح علي خان ترکمان له اصفهانه د هرات د ابدالیو مقابلې ته د ډېر لښکر سره مقرر سو.

پښتانه د هرات د آزادئ له پاره د اسدالله خان په مشرتوب د صفوي لښکرو مقابلې ته ورغلل او په گوسویه او غوریان کي جگړه ونښته. د هرات ملیون بریالي سول او د صفوي لښکرو قوماندان فتح علي ئې د لښکرو سره ټول ووژل او د ډېرو غنائمو سره هرات ته راغلل. په دې ډول عبدالله خان او اسدالله خان هرات د پردو له حکومته آزاد کړ، او په خپله دوی حکمراني کوله(۳۸).

**اسدالله خان:**

لکه چي لوړ مو وویل اسدالله خان د خپل پلار عبدالله خان گړندی قوماندان وو. دوی تر ۱۱۳۲هـ پوري په خپلواکي پر هرات حکمراني وکړه. په دغه کال یوه خورا بده واقعه پېښه سوه. چي اعلیحضرت شاه محمود هوتک د حاجي میرویس خان زوی غوښتل چي د ایران خوا ته خپله د تېرېدلو لار خلاصه کړي، د دې له پاره ئې د یو څه لښکر سره پر فراه باندي یرغل وکړ. اسدالله خان چي د فراه له لاسه تلل نه غوښته، د شاه محمود سره ئې د جگړې له پاره لښکر تر دلارامه بوتله چي د خاشرود پر غاړه واقع دئ. څکه چي د کندهار او هرات لښکر دواړه سره خپلوان او هموطن وه، نو چا نه غوښته چي جنگ وکړي، خو په لومړي تصادم کي په خپله اسدالله خان مړ

---

(۳۸)قلمي نادرنامه: ٢٤ مخ، سلطاني: ٩٨ مخ، حیات: ١٢٦ مخ، جهانکشای نادری: ٧ مخ، تاریخ احمد قلمي: ۳ مخ.

سو او شاه محمود چي نه غوښته له خپلو هموطنانو سره جګړه وکړي بیرته کندهار ته ولاړ او د هرات لښکر هم د اسدالله خان تر قتل وروسته هرات ته وګرزېدل[۳۹].

دا بده واقعه چي دواړو خواوو نه غوښته او اعلیحضرت شاه محمود ئې ډېر متاثر او متاسف کړ په **۱۱۳۲**هـ پېښه سوه.

**زمان خان:**

د ابدالیو لښکر چي په دلارام کي اسدالله خان غوندي مشر بایللی وو بیرته هرات له ولاړل او شاه محمود هوتک چي اصلاً هم جنګ نه غوښت کندهار ته وګرزېدی او عبدالله خان د خپل زوی له مرګه نهایت غمجن سو، ځکه چي دی سپین ږیری هم وو. نو ابدالیانو وغوښتل چي د ده پر ځای یو زلمی او د کار سړی په خپل مشرتوب وټاکي. په دغه وخت کي عبدالغني خان الکوزی چي د ابدالیو مشر وو زمان خان چي د رستم خان ورور او د دولت خان زوی وو د ابدالیو په مشرتوب وټاکه. زمان خان پوه سړی او دلاور او فعال مشر وو ابدالي ئې سره متفق کړل او جعفرخان او نور د صفوي دولت مامورین چي په هرات کي د ملیونو په لاس بندیان وه، د باغ نو په خیابان کي ټول مړه کړل، او د هرات ملي ابدالي دولت ئې د دوی له فساده وژغوره.

دغه وخت د صفوي دربار له خوا صفي قلي خان ترکمان اوغلي د ډېر لښکر سره د هرات د نیولو له پاره له مشهده یرغل وکړ، زمان خان د هرات له ملي لښکر سره د دوی مقابلې ته وووت. د کافر کلا پر میدان د دوی تر منځ سخت جنګ وسو، که څه هم د پارس لښکر خورا ډېر وو مګر د زمان خان

---

[۳۹] جهانکشای نادري: ۸ مخ، سلطاني: ۹۹ مخ، حیات: ۱۲۷ مخ، قلمي نادرنامه: ۲۵ مخ.

ملي لښکر بريالی سو او په خپله صفي قلي خان هم ووژل سو. زمان خان مظفر او د ډېرو غنايمو سره هرات ته وګرزېدی. پس له دې زمان خان دوه کاله او پنځه مياشتي مشرتوب وکړ او له دنيا څخه ولاړ (۱۱۳۵هـ)[٤٠]. د ده دوه زامن مشهور دي: ذوالفقار خان، احمدخان.

**محمدخان:**

چي زمان خان مړ سو نو د هرات ابداليو په ۱۱۳۵هـ محمدخان د عبدالله خان زوی د کندهار له ښوراوکه راوغوښت او د هرات حکمراني ئې وروسپارله. په دغه کال چي اعليحضرت شاه محمود هوتک پر پارس يرغل وکړ نو محمدخان هم د هرات له مليونو سره پر مشهد هجوم يووی، او هغه ښار ئې څلور مياشتي محصور کړ.

محمدخان د خراسان په شاوخوا کي خپله سلطه قوي کړه. د سنګان کلا چي د غوريان غر ئې خوا ته وو هم ده ونيوله. خپل مامورين ئې شاوخوا مقرر کړل او بيرته هرات ته راغی. محمدخان تر دغه وروسته په مشرتوب کي مؤفق نه سو او ابداليو دی له حکمدارۍ څخه خلع کړ او ذوالفقار خان د زمانخان مشر زوی چي د خپل پلار تر مرګ وروسته ښوراوک ته تللی وو رائې ووست او د هرات د مشرتوب واګي ئې په لاس کي ورکړې (۱۱۳٦هـ)، مګر دوه کاله وروسته په ۱۱۳۸هـ رحمن خان د عبدالله خان زوی او د محمد خان ورور هرات له راغی او وئې غوښتل چي حکومت قبضه کړي، ځکه چي پښتنو نفاق او جګړه نه غوښته نو ئې ذوالفقار خان باخزر او رحمان خان ئې فراه ته ولېږل او په دې چم ئې فتنه له منځه ورکه کړه او د هرات د مرکزي حکومت

[٤٠]جهانکشای نادري: ۹ مخ، سلطاني: ۱۰۰ مخ، حيات: ۱۲۷ مخ.

له پاره ئې الله يارخان د عبدالله خان بل زوی چي په ملتان کي وو وروغوښت. دی هم په دغه کال (۱۱۳۸هـ) راغی او د هرات د مشرتوب واگي ئې په لاس کي ونيولې[٤١].

**الله يار خان او ذوالفقار خان:**

پس له هغه چي الله يار خان د هرات حکمداري ونيوله په ۱۱۳۹هـ نادر افشار مشهد مسخر کړ او اته زره لښکر ئې د سنگان پر کلا راواستول، ولي چي دغه ځای هم د هرات د ابداليو تر تصرف لاندي وو.

له هراته د دې کلا د ساتلو له پاره اووه اته زره تنه د الله يار خان له خوا راولېږل سوه، مگر پس له لږ جنگه دغه لښکر بيرته هرات ته ولاړ.

نادرشاه په ايران کي ورځ په ورځ قوي کېدی او د هرات آزادۍ ته خطر پيدا کېدی. نو الله يار خان او ذوالفقار خان د هرات د مليونو مشران سره متفق او د لښکر په تيارولو بوخت سول.

د ۱۱٤۱هـ د شوال پر ځلرمه نادر افشار د هرات پر خوا حرکت وکړ او تربت جام ته راورسېدی. له دې خوا الله يار خان زر سپاره دمخه ولېږل او په خپله هم ولاړ د کوسان په کلا کي د مقابلې له پاره کښېنوست.

نادرشاه ته د پښتنو دلاوري او شجاعت معلوم وو. الله يار خان ته ئې خط وکيښ روغه ئې ځني وغوښته، مگر ابداليو وويل چي موږ د توري په ځوکه جواب وايو، نه په قلم. نادر افشار کافر کلا ته راغی او دلته جنگ ونښت. پښتنو د ښي خوا حمله وکړه او د نادر افشار د لښکرو په منځ ورننوتل. دلته د نادر پښه زخمي سوه او نژدې وو چي د ده ژوند په دغه جنگ کي پای

[٤١] سلطاني: ۱۰۱ مخ، حيات: ۱۲۷ مخ، جهانکشای: ۹۵ مخ.

ته ورسېږي مگر د پښتنو پر يوه مشر گولۍ ونښته او تر شا سول، وروسته بله ورځ الله يار خان بيا خپل لښکر سره تيار کړ او سخت جنگ واقع سو. په خپله نادرشاه د پياده لښکر قومانداني کړله. په دې جگړه کي د پښتون لښکر د بې انتظامۍ لامله ماته وکړه او هرات ته ولاړل. مگر الله يار خان هلته بيا لښکر سره ټول او تيار کړ او د پريان په رباط کي چي له هراته دوه فرسخه ليري دئ د نادر مقابلې ته ولاړ. په دې جگړه کي بيا پښتنو پر نادر سخت فشار راوړ او داسي جنگ ئې وکړ چي دمخه نه وو سوی. خو دلته يو داسي شديد باد راوالوت چي هوا ئې ډېره تياره کړه نو دواړو خواوو لاس له جنگه وکيښ.

دريمه ورځ بيا الله يار خان په جگړه لاس پوري کړ، او تر ماښامه ئې جنگ وکړ، په دې وخت کي ذوالفقار خان هم د خپلو لښکرو سره د ښي خوا د نادر پر قواوو يرغل وکړ. نادر د پښتنو له مړاني او شجاعت څخه روغي ته مجبور سو او د شکيان په رباط کې د مذاکرې او روغي ور له پښتنو سره بيرته کړ او د الله يار خان حکمراني ئې رسماً ومنله. د ذوالحجې څلرمه وه چي د نادر لښکر پس له دوو مياشتو جگړې بې له دې چي هرات ونيسي بيرته مشهد ته ولاړل (۱۱٤۱هـ).

تر دې جگړې وروسته ذوالفقار خان بيرته فراه ته ولاړ او الله يارخان د هرات حکمداري کوله. ځکه چي نادر افشار پس له دې په پارس کي د اعليحضرت شاه اشرف هوتک سره په جگړو بوخت وو. نو ابداليو وغوښته چي ټول خراسان د هرات په حکومت پوري ونښلوي، ځکه چي الله يار خان دغه مهم کار نه سوای کړای نو ذوالفقار خان له فراه څخه راغلی او د عبدالغني خان الکوزي په مرسته ئې هرات له الله يار خان څخه تسليم کړ (۳ د شوال ۱۱٤۲هـ) او الله يار خان له خپلو ملگرو سره مروچاق ته ولاړ.

ذوالفقار خان ژر خپل لښکر سره چمتو کړل او د اتو زرو تنو سره ولاړ،

د مشهد ښار ئې کلابند کړ، دا جنګ اوږد سو. په ۱۳ محرم ۱۱٤۳هـ د مشهد مدافع ابراهيم خان سخت شکست وخوړ، او نادرشاه مجبور سو چي د پارس نور جنګونه پرېږدي او د مشهد خوا ته مخ راواړوي. ذوالفقار خان چي دغه خبره واورېدله ډېر ذخائر او غنايم ئې په لاس کي وه، هرات ته ولاړ او نادرشاه د روژې پر پنځلسمه د ۱۱٤۳هـ کال د هرات د تسخير له پاره عزم وکړ. ذوالفقار خان ځان مقابلې ته چمتو کړ. غنم او غلې ئې په ښار کي دننه کړې او د نادر لښکر راغی ښار ئې محاصره کړ او په خپله نادرشاه د شوال پر ځلرمه د جوي نقره سره د ښار غربي خوا ته واړول. ذوالفقار خان له کلا څخه راووت او د نادر پر لښکر ئې يرغل وکړ، ځکه چي له کندهاره هم د اعليحضرت شاه حسين هوتک له خوا يو څه لښکر د هرات د مليونو د کومک له پاره د مشهور جنرال سيدال خان ناصر په قيادت رالېږل سوی وو. نو دغه لښکر هم پر پارسيانو حمله وکړه او په خپله نادرشاه ئې په يوه برج کي محاصره کړ. هغه د خپله لښکر سره تخت سفر ته ولاړ او دا جنګونه څو ورځي جاري وه. بله ورځ د پښتنو د مشرانو جرګه د ذوالفقار خان له خوا راوغوښتله سوه، دوی ټولو عهد او تړون وکړ چي له پردو سره به تر پايه جګړه کوو. د دې تړون په اثر بيا جنګ سخت سو او د نادر لښکر ئې تر شا کړ.

نادرشاه له شاوخوا څخه نور لښکر هم راټول کړ، او د مروچاق او بادغيس څخه ئې خپله قوه راغونډه کړه او د هرات په شاوخوا کې جنګ کاوه. څو چي د شوال تر ۲۳ وروسته د شمس آباد په کلي کي سخت جنګ وسو، او په دې جګړه کي تقريباً درو زرو ابداليو ځانونه تر وطن قربان کړل.

وروسته نادر د هرات هري خوا ته لس لس زره تنه مقرر کړل چي ښار پوره محاصره سي، مګر ذوالفقار خان له جګړې څخه لاس نه واخيست. هم هغسي په جنګ او مدافعه بوخت وو او د نادر پر لښکرو ئې له هري خوا

حملې کولې او په مړانه ئې ښار ساته. دلته نادشاه ځیني خلک د ذوالفقار خان مخالف کړل او ذوالفقار خان مجبور سو د هرات د دفاع کار ئې الله یار خان ته پرېښود او په خپله د خپل ورور احمدخان سره کندهار ته ولاړ. الله یار خان هم راغی او په ١٨ د صفر ١١٤٤هـ ئې د هرات د دفاع کار په خپل لاس کي واخیست، که څه هم په خپله نادرشاه د الله یار خان څخه د مدافعې سترگه نه درلوده مگر الله یار خان په ښه ډول په دفاع شروع وکړه او شاوخوا ئې هم خپل لښکر ولېږل او د جگړو میدان ئې لا تود کړ. لکه چي په ٢١ د ربیع الثاني ١١٤٤هـ د ښار غربي خوا ته داسي سخت جنگ وسو چي نادرشاه د پښتنو مېړاني او شجاعت ته اریان پاته سو، ځکه چي د اوبې د کلا خلک هم د هرات د ملیونو او مدافعینو تابع وه، نو الله یار خان د سیدم خان او ایاز خان په قیادت دوه زره تنه له ښاره اوبې ته ولېږل. د نادرشاه له خوا اسمعیل خان استاجلو د هغې کلا مدافع وو. د ابدالیو لښکرو اسمعیل خان وواژه او له اوبې څخه ئې ډېر ذخائر د ښاروالو له پاره راواستول.

ځکه چي دالله یار خان کورنۍ او کهډي او د پښتنو ډېر مشران په دغو جگړو کي د نادرشاه په لاس بندیان ورغلي وه نو الله یار خان د رجب په اولو ورځو کي د هرات شیخ الاسلام او سعادت خان افغان نادر ته ولېږل او اسیران ئې سره مبادله کړل.

د رجب په ١٤ ورځ ١١٤٤هـ بیا الله یار خان پر نادر چي په گازرگاه کي وو حمله وکړه او سخت جنگ ئې ورسره وکړ، مگر دلته د الله یار خان وکیل او یو مشهور ملگري حمزه سلطان پوپلزي د نادرشاه په لاس بندي کښېووت، او د الله یار خان د مدافعې قوه هم پای ته ورسېده. هغه وو چي د روژې په لومړۍ ورځ ١١٤٤هـ ئې د هرات ښار پرېښو، د خپلو اتباعو او ملگرو او خپلو خپلوانو سره د کندهار له لاري ملتان ته ولاړ او نادرشاه هرات تر ١٢ میاشتو

محاصرې او دفاع وروسته ونيو (اوله د رمضان ١١٤٤هـ).

ځکه چي نادرشاه د هرات د محاصرې پر وخت ډېر لښکر د محمد سلطان مروي او ابراهيم خان خپل ورور په قيادت د فراه د نيولو له پاره هم ورلېږلي وه نو دغو لښکرو لومړی مصطفی خان ابدالي چي د هرات له خوا مقرر وو په خاش کي وواژه، وروسته ئې په فراه کي عليمردان خان د ذوالفقار خان ورور محصور کړ. دا محاصره هم تر هغه وخته وه څو الله يار خان له هراته راورسېد، دلته نو ابداليو فراه هم د نادر لښکرو ته وسپارله، او په دې ډول د هرات او فراه حکمداري چي ابداليو له ١١٢٣هـ څخه کړله پای ته ورسېده، څو چي بيا نو اعليحضرت احمدشاه بابا بيرته نوې کړه.

# د کلو تطبيق

د دغو مشاهيرو په نومو کي چي مؤرخينو رانقل کړي دي، ځيني داسي د تنقيد وړ نقاط سته چي بايد دلته وويل سي. لومړی دوی د کلو او سنو تطبيق په صحيح ډول نه دئ کړی. دوهم په اکثرو انسابو کي چي لوړ او ليري سي غلطۍ هم واقع سوي دي.

دلته زه د ابداليو د دغو رجالو چي دمخه ذکر سول د ژوندانه کلونه پر تاريخي اصولو سم برابروم. ځکه چي د مؤرخينو په اجماع درې پښته په يوه پېړۍ (١٠٠ کاله) کي ګڼل کېږي، نو بايد دغه کلونه هم پر دغه مثبت اساس سم وي.

په دغو کلو کي هغه چي د تاريخو په روايت مثبت دي، د (م) په حرف ښوول سوي او هغه نور تخميني دي.

لکه ما چي له پښتنو څخه پوښتنه کړې ده دوی تر ځيرک پوري دغه

رجال ښه شمېري، او هيڅ اختلاف نه پکښې لري. مگر تر ځيرک لوړ مورد د شک او اشتباه دئ. که څه هم محمدحيات او خورشيد او مخزن او نور د انسابو ليکونکي دا سلسلې يو راز راوړي، مگر چي موږ د ملک اودل ژوندون په هغو سندو چي ذکر سول د (٤٤٠هـ) حدود وگڼو، او د ده زامن او اولاده تر بامي پوري (اودل – رجړ – عيسی – ځيرک – پوپل – حبيب – بامی) وشمېرو بايد په هغه حساب چي په يوه پېړۍ کي درې پښته راځي د بامي د ژوندانه وخت د (٦٥٠هـ) حدود وگڼو. حال دا چي د مؤرخينو په قول دی د (٨٥٠هـ) په حدودو کي ژوندی وو. نو لکه د تذکرة الملوک ليکونکی چي وايي بايد د اودل او ځيرک تر منځ ډېر خلک تېر سوي وي، ښايي چي نورو شهرت نه وي موندلی، او فقط رجړ او عيسی مشهور سوي وي او مؤرخينو ته هم دغه مشاهير معلوم او نور پښتونه ئې هېر سوي وي[٤٢]. لاندي د کلو تطبيق او د پښتو توضيح وگورئ، هغه چي په (؟) نخښه سوي دي ورک پښتونه دي:

| | |
|---|---|
| اودل | ٤٤٠هـ (م) |
| ؟ | ٤٩٠ |
| ؟ | ٥١٣ |
| ؟ | ٥٤٦ |
| ؟ | ٥٧٩ |
| ؟ | ٦١٢ |
| ؟ | ٦٤٥ |
| رجړ | ٦٨٠ |
| عيسی | ٧١٥ |

[٤٢] تذکرة الملوک د راوړني په حواله.

| | | |
|---|---|---|
| ځیرک | ٧٥٠ | |
| پوپل | ٧٨٣ | |
| حبیب | ٨١٦ | |
| بامی | ٨٥٠ | (م) |
| کانی | ٨٩٠ | |
| بهلول | ٩٢٠ | |
| معروف | ٩٦٠ | |
| عمر | ١٠٠٠ | |
| سدو | ١٠٣٠ | (م) |
| د سدو زامن | ١٠٥٠ | (م) |
| شېرخان | ١٠٨٠ | |
| سرمست خان | ١١٠٠ | |
| دولت خان | ١١١٥ | (م) |
| رستم خان | ١١١٩ | (م) |

له دغه لوړ جدوله ښکاري چي باید د رجړ او اودل تر منځ (٥ – ٦) پښته وي چي اودل د ژوندانه تاریخ د (٤٤٠هـ) حدود پوره سي.

په دې ډول هغه چي مؤرخینو رجړ مستقیماً د اودل زوی ګڼلی دئ ښایي چي صحیح نه وي او دغه نور نوم ورکي اشخاص هم ښایي چي د نه شهرت لامله مؤرخینو نه وي ضبط کړي او د دوی نومونه د سجرو له خاوندانو او نسب پلټونکو څخه هېر سوي وي. لکه چي ځیني دمخني مؤرخین هم دغي نکتې ته ملتفت سوي دي.

**یادونه:**

ځیني د رجالو نومونه چي په دغه مقاله کي ذکر سول، تاریخي آریایي

نومونه دي، لکه: سړبن، الکوزی، بامی، پوپل او نور چي تفاصيل ئې ما د پټې خزانې په ملحقاتو او تعليقاتو کي کښلي دي.

**د ابدالي نوم اوښتل:**

د پښتنو قبايل د اسلام له اولو وختو څخه مشهور او نومونه ئې په تاريخ کي ليکل سوي دي. لکه سوري، لودي، سرواني، خلجي او نور ... مگر د ابدالي نوم پخوا مشهور نه وو، ځکه چي تر هجري لسمي پېړۍ دمخه ئې کم مؤرخ نوم نه دئ اخيستی. حتی بابر چي ډېر عمر په افغانستان کي تېر کړ د ابدالي نوم نه اخلي.

مگر دا نوم لکه د پښتو ډېرو قبيلو نور نومونه په دوی کي وو او هم مستعمل وو. په خپله احمدشاه بابا لکه چي وويل سوه په شعر کي راوړی دئ. بلکي تر احمدشاه دمخه چي د سدوزو د کورنۍ مشرانو په هرات او فراه کي حکمراني کوله يا ئې په ملتان کي سکونت درلود تر (۱۱۰۰هـ) وروسته په ټولو تاريخو کي دوی ابداليان بلل سوي دي. مثلاً محمد مهدي استرآبادي د نادرشاه افشار سرمنشي په جهانکشای نادري کي د هرات او فراه سدوزي ابدالي بولي، حتی په خپله احمدشاه بابا د احمد خان ابدالي په نامه يادوي[٤٣].

د نادرنامې ناظم چي نوم ئې نه دئ معلوم هم د هرات او فراه د ابدالي جنگونه مفصل بيانوي[٤٤] او داسي ښکارېږي چي تر زرم هجري کال وروسته دا نوم ډېر عام او مشهور وو.

مگر د احمدشاه بابا له جلوسه سره ابدالي په دراني تبديل سو او په دې خبره کي مؤرخين ډېر مختلف روايات لري او ټول وايي چي دا نوم نوی دئ.

---

[٤٣] جهانکشای نادری: ٤٦١ مخ.

[٤٤] قلمي نادرنامه: ۱۰۷ – ۱۰۷ – ۱۱۷ و غيره.

رشتیا هم دا ده چي تر احمدشاه دمخه (درانی) نوم په تاریخ کي ډېر لږ لیدل کېږي، د شاه جهان په عصر (۱۰۵۰هـ) چي د ابدالیو مشهور مشران ملک مودود او کامران خان په ډهلي کي د شاه جهان حضور ته ورغله، مؤرخین دوی نه په ابدالي نه په دراني ذکر کوي، بلکي فقط د کندهار مرزبانان ئې بولي[٤٥].

مگر په همدغه عصر کي یو سړی د دراني په نامه ضبط سوی دئ. چي نوم ئې محمدرشید خان او د ملتان دېوان وو. محمدصالح لاهوري ئې (درانی) لیکي[٤٦]، مگر عبدالحمید لاهوري ئې (دورانی) ضبط کوي چي د پنځوسو سپرو د منصب خاوند او د شاه جهان له مامورینو څخه وو[٤٧].

که دغه درانی (دورانی) پښتون وي، نو دا ثابتېږي چي دغه نوم تر احمدشاه بابا دمخه هم وو او په دې سره د هغو خلکو شک هیسته کېدای سي چي دوی وایي چي یو نوم دغسي دفعتاً اړول او بیا د هغه دغسي ژر شهرت د اشتباه مورد دئ.

ښه دا نوم څنگه واوښت؟

احمدشاه بابا په داخلي او خارجي مؤرخینو کي په (ابدالي) مشهور دئ. مگر هغه وخت چي دی پاچا سو (۱۱٦۰هـ) په دراني هم مشهور سو او د ابدالیو مشهوره قبیله هم دراني وبلل سوه. ورو ورو ابدالي نوم ورک او پر ځای ئې بالکل درانی ودرېد. لکه چي اوس په خپله دراني خلک هم ابدالي کورټ نه پېژني، نه وایي، نه په پوهېږي. د دغه نوم اړولو په خصوص کي لاندیني روایات رانقل سوي دي:

---

[٤٥] پادشاه نامه: ۲ ټوک، ۳۲ – ۱۵۱ – ۳٤۸ مخونه.

[٤٦] عمل صالح: ۲ ټوک، ۳۰٤ مخ.

[٤٧] پادشاه نامه: ۱ ټوک، ۳۲۷ مخ.

۱/ تر ټولو دمخه منشي عبدالکریم چي د شاه شجاع معاصر دئ دا روايت ليکي چي صابرشاه د لاهور وو او هر وخت به ئې احمدخان ته ويل چي ته پاچا کېږې. چي نادرشا مړ کړ سو نو احمدخان دغه فقير هم له ځانه سره کندهار ته راوست او دغه فقير د غنمو وږی د ده په سر کي کښېښو او ورته وې ويل: "تو پادشاه درانی". له دغي ورځي څخه احمدشاه خپل قوم درانی وباله چي دمخه په ابدالي مشهور وو او ځان ئې هم په (احمدشاه دراني) مشهور کی[۴۸].

دغه روايت لنگويرت ډيمز په اسلامي انسايکلوپيډيا کي هم ليکلی دئ، چي احمدشاه بابا ځان (دردران) وباله. محمدحيات هم وايي چي احمدشاه پر ځان (در دران) او پر خپل قوم ئې دران او دراني نوم کښېښو[۴۹].

۲/ سلطان محمد کندهاری دغه روايت کټ مټ ليکي. مگر دوني زياتی کوي چي د کندهار د مشرانو جرگه د (شيرسرخ) په مزار کي راټوله سوه او د پاچا پر انتخاب ئې څېړنه کوله. په دغه منځ کي صابرشاه د غنمو وږی د احمدشاه په سر کي وتړومبه او په پاچهي انتخاب او په (دراني) سره وبلل سو[۵۰].

فيض محمد د سراج التواريخ ليکوال هم کټ مټ دغه روايت نقلاً ليکي.

۳/ امير عبدالرحمن خان داسي ليکي چي: د احمدشاه بابا يوه مشهور معاصر ولي چمکني خوب ليدلی وو چي د هغه په سبب ئې د (دردران) لقب

---

[۴۸]تاريخ احمد د منشي عبدالکريم، قلمي نسخه.

[۴۹]حيات افغاني: ۱۲۹ مخ.

[۵۰]تاريخ سلطاني: ۱ ټوک، ۱۲۳ مخ.

غوره کړ[٥١].

دا درې اساسي او داخلي روايات دي. ميلسون هم ليکي چي احمدشاه خوب وليد او خپل لقب ئې (در دوران) غوره کړ[٥٢]. سرپرسي سايکس هم دغه روايت نقل کوي[٥٣]. اسلامي انسايکلوپيډيا هم ليکي چي احمدشاه پر ځان دردران (دوران) نوم کښېښود چي وروسته ئې قبيله هم په دراني مشهوره سوه. کمه چي پخوا ابدالي نومېده.

په هر صورت که درانی نوم پخوا هم وو خو مشهور نه وو. د احمدشاه بابا تر جلوس وروسته د ابدالي پر ځای ودرېد او احمدشاه بابا په خپل مهر کي هم داسي وليکل: "الحکم لله يا فتاح احمدشاه درانی"[٥٤]. په رسمي کاغذو او ليکو کي هم دغه مستعمل وو. مثلاً په (۱۱۷۰هـ) اعليحضرت احمدشاه بابا په حجاز کي د افغانستان د حاجيانو له پاره يو ځای جوړ کړ، چي (رباط سليماني) نومېدی. هلته ئې يوه کتيبه وکښله چي څو ځايه (دراني) پکښې ليکلی دئ[٥٥].

د احمدشاه بابا معاصرينو چي کم تاريخونه کښلي دي، هلته هم دغه کلمه سته، مثلاً حافظ رحمت خان ليکي: "ابدل که دراينوقت بشرف لقب درانی ملقب شده[٥٦]". د نادرنامې ناظم په ۱۱۷۲هـ کي وايي:

به تخصيص سرخيل درانيان - خديو جهان دار روشن روان
سرافراز احمدشهٔ کامگار - که اکنون بدو گردد اين روزگار

---

[٥١] تاج التواريخ: ۲ ټوک، ۱٥۲ مخ.
[٥٢] تاريخ افغانستان د ميلسون: ۲٥۷ مخ.
[٥٣] تاريخ ايران: ۷۸ مخ.
[٥٤] سلطاني: ۱۲٤ مخ.
[٥٥] کابل: ۲ ټوک، ۲۰۷ مخ.
[٥٦] خلاصة الانساب قلمي: ۲۳ مخ.

زدانیانش ســــپاهی که بود[۵۷] - بخونخـواهی شــه مهــیا نمود

د نادرنامې ناظم د احمدشاه بابا معاصر او کتاب ئې د ده په نامه نظم کړی دئ. په نورو ځایو کي د احمدشاه بابا پلار او نیکونه ذکر کوي ابدالي او ابدالیان ئې بولي، مګر دلته چي د احمدشاه بابا ذکر راځي په دراني ئې اخلي، نو له دې څخه ښکاره کېږي چي داحمدشاه بابا تر جلوس وروسته خورا ژر دغه تسمیه عامه او خپره سوې ده. په پښتو ادب کي هم تر احمدشاهي دورې وروسته د ده او نورو سړو له نامه سره (درانی) وینو. مثلاً قاسم علي اپرېدی (۱۱۹۰هـ) وایي:

احــمدشاه درانی نشته دئ یارانو[۵۸]

چي پر سر کاندي افسر حبش زنګي

مسعود ګل پاسنی (۱۲۰۰هـ) وایي:

جان محمد دورانی هسي حکایت کا[۵۹]

حـکایت د احـــــــمدشاه د ولایت کا

په دې دوهم بیت کي (دورانی) په واو لیکل سوی دئ او دا کټ مټ هغه (دورانی) دئ چي عبدالحمید لاهوري په پادشاه نامه کي هم دغسي کښلی دئ. او له دغه څخه ښکارېږي چي باید دا نوم تر احمدشاه بابا دمخه هم وي، اما رسمي شهرت ئې د ده له جلوسه څخه دئ.

نو د دوراني د نامه لنډیز دا دئ چي: پخوا ټول خلک چي سړبن ته منسوب دي سړبني بلل کېدل لکه چي حمید مهمند سړبنی وایي:

د حمید د ساده شعر کمال ګوره

---

[۵۷] قلمي نادرنامه: **۲۹۳** مخ.

[۵۸] د قاسم علي قلمي دېوان.

[۵۹] پښتانه شعراء: ۱ ټوک، **۳۸۳** مخ.

چي شـمله شـــــو د تمام سړبني

وروسته چي د سدوزو مشرانو په هرات او غربي افغانستان کي حکمراني درلوده، دوی ابدالي او ابداليان بلل کېده، د دوراني يا دراني نوم که څه هم تر احمدشاه بابا پخوا موجود دئ، خو رسماً د ده له جلوس سره اعلان سو (۱۱۶۰هـ).

په دې ډول ټول ابدالي خلک (دراني) وبلل سوه او نور سړبني خلک چي په پېښور او نورو ځايو کي خپاره وه په (بر دراني) نومړ سول.

**د دې مقالې ماخذ:**


- دائرة المعارف بريتانيکا
- مجلۀ آريانا: **۳** ټوک
- پټه خزانه د کابل طبع
- مخزن افغاني قلمي
- حيات افغاني د لاهور طبع
- تاريخ سلطاني د بمبئي طبع
- تذکرة الملوک قلمي د راورټي په حواله
- لوی احمدشاه بابا د کابل طبع
- د گل محمد قلمي دېوان
- نفحات الانس د جامي
- سيرالاقطاب
- آئين اکبري د لکهنو طبع
- تاريخ احمد قلمي

- خورشید جهان د لاهور طبع
- تتمة البیان د سید جمال الدین
- تاریخ سرجان ملکم
- تاریخ افغانستان د میلسون
- تزک جهانگیري
- اقبالنامه د کلکتې طبع
- منتخب اللباب د کلکتې طبع
- پادشاه نامه د کلکتې طبع
- زندگاني نادر د تهران طبع
- روضة الصفا ناصری، ۸ ټوک
- جهانکشای نادري د هند طبع
- عمل صالح د محمدصالح لاهوري، ۲ ټوک
- تاج التواریخ د امیر عبدالرحمن خان: ۲ ټوک
- تاریخ ایران د سرپرسي سایکس
- خلاصة الانساب قلمي
- مجلهٔ کابل: ۲ ټوک
- نادرنامه منظوم قلمي یا شاهنامه نادر
- دیوان قاسم علي افریدی قلمي
- پښتانه شعراء: ۱ ټوک